# سپين غر

د لوړوزده کړو مؤسسه (ننګرهار)

Spinghar Institute of Higher Education (Nangarhar)



# طبي ټکنالوژي پوهنځی

**Faculty of Medical Technology**

## د طبي ټکنالوژي پوهنځي لنډه تاريخچه او پېژندنه

سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسې د طبي ټکنالوژي پوهنځی په (۱۵/حمل/۱۳۹۰) نېټه د لوړو زده کړو وزارت سره رسماً ثبت او تأسيس شو.

د ياد پوهنځي ټولې تدريسي، اداري او څېړنيزې چارې د پوهنځي د رئيس، مرستيال، عمومي ډيپارټمنټ، پارا کلېنيک برخې او تدريسي مديريت ترڅنګ اته ګونو (کيفيت لوړونې، تحصيلي نصاب، علمي څېړنو، ازموينو او نتايجو، نظم او ډسپلين ، فرهنګي چارو، بريښنايي زده کړو او پلان او پاليسی) کمېټو له لوري پرمخ وړل کېږي.

ياد پوهنځی د طبي ټکنالوژي په برخه کې د کادري او باتجربه تدريسي او اداري پرسونل، د مسلکي مضامينو اړوند يوولس تطبيقاتي لابراتوارونو، د عملي زده کړو لپاره معياري تدريسي روغتون، عصري تدريسي خونو او نورو ګڼو اسانتياو په لرلو سره په مسلکي، اخلاقي، علمي او معياري ډول محصلين روزي او د روغتيايي خدماتو په موخه يې ټولنې ته وړاندې کوي.

همدارنګه د طبي ټکنالوژي پوهنځي خپل درسي بهير په کريډيټ سيستم برابر کړی او د لوړو زده کړو وزارت د قوانينو، مقرراتو، لوايحو او پاليسيو په رڼا کې، د معياري درسي نصاب په لرلو سره، محصلينو ته تحصيلي خدمات وړاندې کوي.

د طبي ټکنالوژي پوهنځي د ستراتېژيکو موخو ترلاسه کولو لپاره پينځه کلن ستراتېژيک پلان لري، چې ټول اداري اوتدريسي فعاليتونه يې د ياد پلان له مخې ترتيب او تنظيمېږي.

د طبي ټکنالوژي پوهنځی غواړي چې د غوره نظري-عملي تدريس او علمي څېړنو له لارې ټولنې ته داسې فارغان وړاندې کړي، چې د ناروغيو تشخيص يې د هېواد او سيمې په کچه د باور وړ وي.

طبي ټکنالوژي پوهنځی د معياري تحصيلي نصاب، غوره تدريس، څېړنو، مجهزو لابرتوارونو او مسلکي استادانو پرمټ داسې طبي ټکنالوجېستان روزي، چې په ملي او سيمه ايزه کچه د طبي لابراتوار تشخيصيه اړتياو پوره کولو وړتيا لري.

## د طبي لوړو زده کړو معياري اداره

**A Standard Institution of Higher Education in Medical Sciences**

# د عمومي (کلینیک) ډیپارټمنټ

# لرلید، ماموریت او ستراتیژیک اهداف

## لرلید

د طبي ټکنالوژي پوهنځي عمومي ډیپارټمنټ غواړي چې د نظري، عملي تدریس او علمي څېړنو په مرسته داسې طبي ټکنالوجیستان وروزي، چې د ناروغیو تشخیص په معیاري لابراتواري پروسېجرونو سره ترسره کړای شي.

## ماموریت

د طبي ټکنالوژي پوهنځي عمومي ډیپارټمنټ د معیاري تحصیلي نصاب، څېړنې، تدریس، عملي زده کړو او مجربو استادانو پر مټ، داسې ټکنالوجیستان ټولنې ته وړاندې کوي چې د عامې روغتیا سکټور تشخیصیه اړتیاوې پوره کړای شي.



## اهداف

- د استادانو او محصلینو ظرفیت لوړونه.
- د ناروغیو په تشخیص کې د لابراتواري ازمایښتونو د اساساتو پېژندنه.
- د محصلینو مسلکي مهارتونو لوړولو په موخه، د لابراتواري تجهیزاتو او معلوماتي ټکنالوژیکي وسایلو کارونه.
- په لابراتواري پروسیجرونو کې د کیفیت کنترول په اهمیت او کارونه باندې د محصلینو پوهونه.
- محصلینو ته د نمونې اخیستلو غوره او معیاري مېتودونو ورپېژندنه.
- محصلینو ته د طبي لابراتوار کاري اصولو ورپېژندنه.
- محصلینو ته د څېړنو پر بنسټ د نویو لابراتواري پروسیجرونو ښودنه.
- د محصلینو مسلکي اخلاقي کړنو ته وده ورکول او په ټولو لابراتواري فعالیتونو کې محرمیت ساتل.
- د تدریس،تحقیق او نوښتونو پر مټ د ټکنالوجیستانو روغتیایي پاملرنو خدماتو کیفیت لوړاوی.
- د محصلینو تر منځ د اسلامي اخلاقي معیارونو او مسلکیتوب وده او پراختیا.
- د لابراتواري موندنو په تحلیل او تجزیه کې د محصلینو وړتیاوې لوړول.
- د استادانو پر مټ د تحصیلي نصاب مطابق د معیاري درسي موادو ترتیبول.

# اسانتیاوې

